DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپاڼه
سال تاسیس ۱۳۷۹ ه ش

سال ششم شماره ۱۲۷
شماره مسلسل ۹۹۴
سه شتبه ۲۶ ثور ۱۳۸۵ ه . ش
۱۷ ربیع الاول ۱۴۲۷ ه ق
16 May, 2006

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C

ملالۍ جويا : له وېرې هره شپه کور بدلوم

په ولسي جرګه کې د فراه ولايت وکيلې ملالۍ جويا انديښنه څرګنده کړې چې ژوند يې ګواکې له خطر سره مخامخ دی او دا چې له دې کبله هره شپه د ځای بدلولو ته اړ وخي.

دا وايي تيره اونۍ د ولسي جرګې په غونډه کې له مجاهدينو سره په شخړه کې له کښېوتو راهيسي د ځاني امنيت له اړخه شک پارونکي حرکتونه ويني او په تيليفون کې هم په پرله پسې توګه ګواښل کيږي.

ملالۍ دا هم ويلي چې له دې اړخه يې خپلې انديښنې له پوليسو سره شريکې کړې دي. د ولسي جرګې دغه ځوانه وکيله چې د توندو نيوکو له کبله يې ځانته د مطبوعاتو پام وراړولی وايي ، په دې وروستيو ورځو کې داسې نښې نښانې احساسوي چې ګواکې ځاني امنيت او ژوند يې له ګواښ سره مخامخ دی.

جويا وايي

«زه مشکوک حرکات وينم. ماته تهديدونکي تيليفونونه راځي. په پارلمان کې تهديدکيږم او سپکاوی مې کيږي.» ۴مخ

دستري محکمې پيشنهادي غړي

ولسی جرګی ته وړاندی شول

پرون په هيواد کی دولسمشر کرزی لخوا ولسی جرګی ته دستری محکمی پيشنهادی غړی وړاندی شول. دغه کسان پرون له غرمی مخکی دولسمشر دلومړی مرستيال احمد ضيا مسعود لخوا ولسی جرګی ته ورو پيژندل شول.

نو به دستری محکمی رئيس او نور غړی دولسی جرګی وکيلانو ته خپل کاری پلانونه وړاندی کړی او د دوی پوښتنو ته به ځواب ووايي. او دچهار شنبی په ورځ به دغو کسانو ته دولسی جرګی دوکيلانو لخوا د رد او يا تائيد رايه ورکړل شي.

راديو ازادي

سید طیب جواد

بی توجهی جامعه جهانی سبب افزایش حملات طالبان شده است

سید طیب جواد سفیر افغانستان در ایالات متحده امریکا میگوید که بی توجهی جامعه جهانی در افغانستان سبب افزایش حملات نیروهای طالبان شده است.

آقای جواد هم چنان افزود که نیروهای طالبان در حال دریافت کمک های لوژستیکی وتجهیزات نظامی جدید هستند.

آقای جواد گفت جامعه جهانی توجه خود را به مشکلات عراق معطوف نموده وبه تقویت نیروهای امنیتی در افغانستان بی توجه شده اند ص۴

دستگیری چهار تن مشکوک

نیروهای اردوی ملی ونیروهای ائتلاف از بازداشت ۴ فرد مشکوک در ولایت غزنی خبر دادند. یکی از مسوولان اردوی ملی با آژانس خبری پژواک گفته است این افراد به اتهام پرتاب راکت به شهر غزنی بازداشت شده اند.

سرمقاله

دښوونځيو اوسنۍ بی نظمي حرکت او کيفی کمزوري به کوم لور ته ورسيږي؟

زموږ د ټولنې دورانو شوو بنسټونو دجوړولو په بهير کې دنورو ضروری او مهمو بيارغاونو ترڅنګ دمعارف دهر اړخيزې بيارغاونې اړتيا زياته ليدل کيږي.

دتيرو اوږدو او تپل شوو جګړو په تريخ دوام کې زموږ تعليمی سيستمونو ته دجوړو شوو پلانونو پر بنسټ داسې ګوزارونه ورکړل شول چې ناوړه نتيجې يې همدا اوس محسوس دی او اوس هم زموږ دتعليمی مرکزونو دبيا سوځولو لړۍ دمخربو او هيواد دښمنه عناصرو له خوا روانه ده چې تراوسه پورې دهيواد په بيلابيلو سيمو کې له ۹۰ څخه زيات ښوونځی سوځول شوی دی. زموږ دخپلو تعليمی مرکزونو په برخه کې يوازې دا نه چې ددښمنانو له خوا له سوځولو سره مخامخ يو نورې زياتې ستونزې هم لا په خپل حال پاتی دی چې دځلورو کلونو په موده کې لا ورته هيڅ پاملرنه نه ده شوې. په دې پرتو ستونزو کې ډيره خطرناکه داده چې دهرې ورځې په تيريدو سره ناوړې نتيجې رامنځته کوی چې هغه په ښوونځيو کې پوره بی نظمی په معارف کې د توازن نشتوالی په ټولګی کې د زده کوونکو دشميرې زياتوالی دکيفی سطحې صفر خوا ته تقرب.

دمعارف په اوسنی زړه لايحه کې کمزوري انضباتی سزاګانې، په وړيا توګه دزده کوونکو کاميابول اوپه جعلی تصديقونو په ازموينه کې شامليدل او داسې نورعلتونه ددې سبب شوی چې زموږ تعليمی سيستمونه له يو ډول ګډوډۍ سره مخامخ کړی.

نن سب دهيواد په ټولو ښوونځيو کې په زياته او کمه اندازه پوره بی نظمی او دزده کوونکو بدمعاشی روانه ده شاګرد په خپله خوښه ښوونځی ته راځی او ځی دمحروميدو او ناکميدو څخه خلاص دی دښوونکو په مقابل کې دګستاخی کولو په صورت کې دسزا ورنه ګرزی دښوونکو زړونه وهل شوی دی اويوازې خپل پت او ځان ساتی. دښوونکو او مسوولينو ځان ساتې حرکت لا دښوونځيو نظم دپرتو علتونو له امله خراب کړی دی.

که چيرې دښوونځيو په اوسنی لايحه د انضباتی سزاګانو دزياتوالی، دحاضری د قيدولو دجعلی تصديقونو د منلو دجعلی سه پارچو دمنلو او په تيره بيا دښوونکو دهيلو او غوښتنو په برخه کې نوی نظر ونشي ويلای شو چې موږ دهر تعليمی کال په پای کې په زرګونو بې سواده ځوانان ټولنې ته وړاندې کړو چې په راتلونکی کې په دخپلې کورنۍ او ټولنې داوږو بار وګرځی. او تعليمی بيا رغاونه به مو په کيفی اونظمی خوا کې دصفر خواته تيزه شي.

په ننګرهار کې يو شمير ښځو ديوناما د دفتر په مخکی دملالی جويا ملاتړ وکړ

په ننګرهار ولايت کې يو شمير ښځو ملګرو ملتونو دمرستندوی دفتر يوناما مخی ته راټولی شوی وی. او په پارلمان کی يې دفراه ولايت داستازی ملالی جويا له هغو خبرو نه دفاع کوله چی څو ورځی مخکی له کبله يی دپارلمان په غونډه کی ګډوډی پيدا شوی وه.

دغو ميرمنو چی شميره يی شاو خوا شلو تنو ته رسيده او دعوا يی کوله چی تر ۳۰۰ زياتو ميرمنو استازيتوب کوي په يوه خوله دملالی جويا له دريغ څخه ننګ او ملاتړ ښووده.

د دوی له ډلی څخه يوی چی خپل نوم يی هما يادکړ او له خبريالانو سره يی خبری کولی وويل په پارلمان کی د ځينو خلکو لخوا پرملالی جويا فزيکی بريد ونه غندی او دهغو دمحاکمی غوښتنه کوی چی دهغی په وينا لاسونه يی دملت په وينو سره وی. ۴مخ

۲ زره وسله والې ډلې افغانستان کې شته

د افغانستان چارو کې د ملګرو ملتونو د مشر ځانګړی استازی کريس الکساندر پرون يوې خبری ناستې ته وويل ، افغانستان کې ۲ زره وسله والې ډلې شته ، چې يو شمير يې د نيشه يی توکو له قاچاقچيانو او جنايتکارانو له ډلو سره تړاو لري او له ۱۰۰ څخه تر ۲۰۰ پورې دغه ډلې دولت ګواښوی.

همدا شان د افغانستان ددفاع وزارت مرستيال يوسف نورستاني پرون خبريالانو ته وويل چې ټولې وسله والې ډلې به په راتلونکی يوکال کې بې وسلې شي

د طالب جنګياليو وتلي قوماندانان وژل شوي

کندهار کې د ولايت ويانده داود احمدی بينوا سره پرون په خبرو کې ادعا وکړه چې په ۱۱ وژل شوو طالب جنګياليو کې په کندهار کې د طالبانو وتلی قوماندان ملا عبد الباقی ، ملا فدا محمد او ملا عبد المنان چې په ډيرو چاودنو، ځانمرګو بريدونو او وژنو کې يې لاس درلود، شامل دي. ۴مخ

په هرات کې دغندنې غونډه

په هرات ولايت کی ديوی غونډې ګډون کوونکو دناڅرګندو کسانو لخوا دښوونځيو سوزول وغندل. پدغه غونډه کی دښوونې او روزنې د وزارت چارواکو ديني پوهانو او يو ګڼ شمير ښځينه اونارينه ښوونکو برخه اخيستی وه. دغونډې ګډون والو په وار سره دښوونځی سيځل او دښوونکو وژل وغندل او دا چاری د هيواد له خلکو سره دښمنی وبلله.

دښوونی اوروزنې درياست چارواکو وويل چې تردې مهاله په کندهار هلمند ،لوګر ،زابل ،لغمان ،پروان ،نيمروز ،سرپل ،کنر ،غزني ،کاپيسا او ځينی نورو ولايتونو کی د ۲ مليونو امريکايی ډالرو په ارزښت ۹۰ ښوونځي سيځل شوی دي.

کشف مرمی های توپ

کارمندان ریاست مبارزه با تروریزم وزارت امور داخله دیروز ۹۴ مرمی توپ را از ولسوالی خوگیانی ولایت ننگرهار بدست آوردند.

به گفته مسوول رسانه هاي این ریاست به اتهام این قضیه کسی باز داشت نشده است.

مسوول رسانه ها در ریاست تروریزم میگوید که این مرمی ها توسط دشمنان مردم برای انجام حملات هراس افگنی در زیر زمین جابجا شده بود.

روابط انسانها در یک جامعه مدنی در ماهیت دموکراسی

پیوسته به گذشته

سرپراحمد ساقی

تا آنجا که مربوط به پاسخ به پرسشهای بالا می شود، باید گفت که تاریخ تاکنون بشر این را به ما می گوید که استبداد یا دیکتاتوری سیستم فراگیری بوده است که تا همین چند قرن پیش تقریبا بر تمامی جوامع حاکم بوده است. علت آن نیز این است که توانائیها و آگاهیهای ذهنی انسان همواره نسبی است و تا معظلی وجود نداشته باشد ذهن او حول راه حل یابی فعال نمی شود، یعنی بایستی سیستم مبتنی بر استبداد وجود خارجی و عینی داشته باشد تا ذهن انسان پیرامون راه حل یابی برای آن فعال شده ، با آن به چالش بپردازد و بشکل پراتیکی نیز با آن در گیر شود . اکنون چند قرن بیشتر نمی گذرد که خود انسان و مجموعه روابطی که در بین انسانها شکل می گیرد تبدیل به موضوع ذهنی انسان شده است. همچنانکه انسان در روند تکاملی خود، با شناخت هر چه بیشتر طبیعت و قوانین حاکم بر آن قدرت اعمال سلطه بر طبیعت را پیدا کرده و هر چه بیشتر از جبر طبیعت رها می شود، می توان گفت که این روند در رابطه با پدیده ی قدرت ،جامعه ، حکومت و ... نیز صادق است. بدین مفهوم که روابط بین انسانها در یک روند طبیعی با قانونمندیهای خاص خودش شکل می گیرد و در چالش با این روند طبیعی و نابسامانیهای ناشی شده از آن است که انسان جبرا به سمت شناخت قانونمندیهای حاکم بر این روابط سوق پیدا می کند و این توانایی را پیدا می کند تا از جبر و سلطه آن رها شود.

گفتیم که استبداد حاصل روند طبیعی جاری شدن قدرت در جامعه می باشد بنابر این انسان می تواند با شناخت پدیده قدرت و قانونمندیهای حاکم بر آن از جبر آن رها شود. روند رها شدن انسان از الزامات جبری پدیده قدرت، در واقع چیزی جز روند شکل گیری دمکراسی نمی باشد. با توجه به چنین دیدی می توان گفت که پیشرفت انسان لاجرم به حل مسئله استبداد وابسته می باشد و از آنجا که استبداد در دوره تاکنونی تاریخ بشر شکل غالب و فراگیر سازمان قدرت بوده است لاجرم رها شدن از جبر آن و رسیدن به دمکراسی که پادزهر استبداد می باشد نیز بایستی فراگیر بوده و به یک دوره تاریخی تبدیل شود. بر همین اساس است که می توان دوران تا کنونی تاریخ بشری را به دو دوره ی استبداد و دوره ی دمکراسی تقسیم کرد.

دوره گذار به دمکراسی:

روند تاریخی شکل گیری دمکراسی چنین می نماید که شکل گیری دمکراسی به نحوی با شکل گیری جامعه ملی و پدیدار شدن قدرت جمعی رابطه دارد. می توان گفت که شکل گیری جامعه ملی مقدمه شکل گیری دمکراسی در یک جامعه می باشد. اما آیا شکل گیری جامعه ملی بلافاصله به دمکراسی می انجامد؟ قطعا خیر. باید گفت که شکل گیری جامعه ملی و تناقضات ناشی شده از آن زمینه هایی را فراهم می کند که بخشهای بیشتری از جامعه را وارد چالش و جنگ با قدرت متمرکز شده در نهاد دولت می کند و دمکراسی حاصل این چالشها و درگیریهاست. بنابراین بین شکل گیری جامعه ملی و دمکراسی یک دوره زمانی وجود دارد که می توان آنرا دوره گذار به دمکراسی نامید.

در دنباله این نوشته به رابطه بین جامعه ملی و دمکراسی و بخصوص به ناسیونالیسم که زاییده جامعه ملی می باشد پرداخته خواهد شد. در اینجا برای توضیح بیشتر دوره گذار به دمکراسی، بطور خیلی خلاصه به چگونگی پدیدار شدن "قدرت جمعی" می پردازیم.

هم چنانکه در بخش پیشین گفته شد، قدرت جمعی در واقع زاییده متمرکز شدن قدرت در نهاد دولت و شکل گیری جامعه ملی می باشد. هم چنین گفتیم که تضاد بین قدرت جمعی و نهاد دولت یکی از چالشهای اساسی جامعه ملی است که لاجرم راه به جنگ و درگیری بین "قدرت جمعی" و نهاد قدرت دولتی می برد. از آنجا که قدرت جمعی در وحله اول بشکل احساس مشترک افراد یک جامعه خودنمایی می کند، می توان گفت که "قدرت جمعی" در وحله اول و در ابتدا به شکل یک پتانسیل و قدرت بالقوه در جامعه ملی بوجود می آید.

- روند طبیعی زندگی اجتماعی انسان لاجرم به شکل گیری جامعه ملی می انجامد. در جامعه ملی قدرت در هرم قدرت کشوری یا دولت متمرکز می شود. حاصل این تمرکز، هضم شدن هرمهای جمعی طبیعی قدرت در دل نهاد دولت و تضعیف هرمهای فردی قدرت است.
- نهاد دولت در ماهیت یک نهاد جمعی است که به شکل طبیعی به حوزه قدرت فردی تبدیل می شود و به هنگام اعمال اتوریته خصلت فردی یا استبدادی پیدا می کند.
- تمرکز قدرت در نهاد دولت که حاصل شکل گیری جامعه ملی است به همسان سازی افراد تحت اتوریته می انجامد و هویت مشترکی بوجود می آورد. این هویت مشترک، قدرت جمعی را به شکل بالقوه یا نهفته بوجود می آورد.
- قدرت بالقوه جمعی در هر حال تمایل به تبدیل شدن به قدرت بالفعل دارد. این تمایل در یک پروسه نهادهای قدرت را بوجود می آورد. این نهادها هر چند حاصل تمرکز قدرت در دولت می باشند، ماهیتا با آن تضاد و ناسازگاری دارند.
- بر خلاف هرمهای طبیعی قدرت که به شکل خودبخودی و اتودینامیک شکل می گیرند، در بوجود آمدن نهادهای قدرت در جامعه ی ملی، عنصر ذهنی یعنی آگاهی و انتخاب افراد دخالت دارد. به همین دلیل سرعت شکل گیری آنها بستگی به عوامل متفاوتی از جمله ذخائر تاریخی- فرهنگی یک جامعه و میزان مقاومت نهادهای موجود و شکل گرفته در جامعه ، دارد.
- این نهادها توسط اراده آزاد انسانها سازماندهی می شوند، هر چند که زمینه های عینی شکل گیری آنها به شکل خود بخودی و طبیعی وجود دارد. منافع مشترک اعضاء جامعه ملی پشتوانه شکل گیری و به عینیت تبدیل کردن این نهادهاست. نهادهای صنفی بر اساس منافع بخش معینی ازجامعه ی ملی و نهادهای سیاسی بر اساس منافع مشترک عام و در ک اشل ملی شکل می گیرند . زمانی که این نهادها آنقدر قدرتمند بشوند که بتوانند با نهاد دولت به تعادل قوا دست یابند یا آن را در هم بشکنند، دوره دمکراسی آغاز می شود.
- نهاد دولت با اعمال اتوریته، از طرفی هرمهای فردی قدرت را به محاق می برد و از طرفی دیگر از شکل گیری واحدهای قدرت اجتماعی - سیاسی، یعنی نهادهای صنفی و سیاسی ، جلوگیری می کند و نهادهای نیمه شکل یافته را نیز بشدت سرکوب می کند. به همین دلیل روند شکل گیری این نهادها با جنگ و مبارزه توام است.
- اعمال اراده قدرت جمعی در اشل عمومی بدون در هم شکستن و تحمیل آزادیهای اساسی به نهاد دولت غیر ممکن است و تا زمانی که قدرت جمعی به شکل عمومی در اشکال مختلف جاری نشود، دمکراسی به وجود نمی آید. بنابراین آزادی بر دمکراسی مقدم است. یعنی بدون آزادی دمکراسی امکان موجودیت یافتن پیدا نمی کند.

دمکراسی:

- دمو (مردم) کراسی (قدرت)
- دمکراسی در لغت به معنای قدرت مردم است
- حکومت مردم بر مردم
- حکومت مردم بر مردم و برای مردم
- در اینجا، دمکراسی به آن سیستمی گفته می شود که هدف غایی آن، تحقق قدرت مردم می باشد. وقتی صحبت از "ماهیت دمکراسی" می شود، مقوله قدرت بعنوان مفهوم اساسی وجوهری دمکراسی مد نظر است. با در نظر گرفتن این مسئله می توان دمکراسی را اینطور هم تعریف کرد: دمکراسی، سیستمی است برای مدیریت قدرت و مفید سازی آن.

لیبرالیزم:

لیبرالیزم، دارای مفاهیم مختلفی می باشد. - لیبرا لیزم در فلسفه سیاسی به احزاب یا گروههای سیاسی می گویند که در صف بندی سیاسی بین چپ و راست، مابین آن دو قرار می گیرند. - لیبرا لیزم در فلسفه اقتصاد، یعنی باور به سیستم اقتصادی مبتنی بر بازار رقابت آزاد با توجه بر اصل عرضه و تقاضا و تاکید بر چرخش آزاد سرمایه و کالا.

ادامه دارد

دینی علمان باید لازیات دحکومت ترڅنګ دتخریبي عناصرو په هکله روښانه کړي

نادر

د هیوا دوالو هغه اندونه چې ویل به یې کیدای شي ورځ په ورځ سراسري امن خراب او په امنیتي خواوو کې اندیښنې را زیاتې شي اوس اوس ثابت شول دتیرو کلنو په پرتله دهرې ورځې په تیریدو سره سراسري امن او امنیت دغلو او دمخربو عناصرو دکړنو له امله خراب او پدې برخه کې یې دخلکو اندیښنې رازیاتې کړې دي دبیا رغاونې د کورنیو او بهرنیو کارکوونکو تښتولو او وژلو دماشومانو تښتولو برمته نیولو او حلالولو دجوماتونو سوځولو پدې پلمه چې انجونې په کې درس وایي، د ښوونځیو سوځول او په توغندیو ویشتل له یوې خوا او دهیواد په هرګوټ کې له بې قانوني او اداري فساد څخه په استفاده دغلو زیاتوالی له بله پلوه د امنیت په برخه کې اندیښنې رازیاتې کړې دي.

تخریبي عناصر په سیمو او کلیو کې نه یوازې دا چې تخریبونه په ازاده توګه سرته رسوي بلکې د دولت او بهرنیو قواوو پرخلاف زهرجن تبلیغات هم سرته رسوي دکلیو اوسیمو خلك مجبوریږي چې دهغوی دتبلیغاتو او کړنو په هکله دروا اوناروا توب په هکله له دیني عالمانو څخه پوښتنه وکړي. زموږ ځینې حق پرسته او په هیوا مین عالمان نه یوازې په یوازیتوب سره دهغو کړنې غندي او داسلام خلاف حرکت یې بولي بلکې دهیواد په مرکز او ولایاتوکې دعلماوو او روحانیونو سراسري شوراګانو له لارې د ابلاغیو په خپرولو سره دتخریبي عناصرو هرډول عملیات او تبلیغات څو څو ځلې غندل شوي او ګوته ورته نیول شوي ده.

علماوو دهغوی په کړنو باندې کرښه ایستلې ده او تل غواړي چې په خپلو ویناوو سره دخلکو ذهنونه روښانه کړي مخرب او نورو ته لاس په نامه عناصر غواړي دپرون په څیر دخپلو بادارانو په خدمت کې اوسي په لومړي ګام کې زموږ دعلماوو په وژلو لاس پوري کوي ان چې دخدای په کور کې یې شهیدان کړل پدې توګه غواړي چې ددین داحکامو په رڼا کې دخلکو ذهنونه روښانه نه کړي دوی په دي طریقه سره غواړي په خلکو کې ډار او ویره رامنځته کړي چې نه یې علما مخالفت وکړي او نه یې عام خلك او همدا وجه ده چې نن سبا په ریښتیا توګه په خلکو کې یوه پراخیدونکې ویره رامنځته شوې ده.

دسیمو خلکو چې دښوونځیو دسوځولو په وخت کې داسې تخریب کاره عناصر لیدلي وای خپل مخونه یې پټ کړي وي له وسلو او تیلو سره په داټ سنو کې راشي څوك ورته څه ویلای نشي مکتب وسوځوي او لاړ شي.

عجیبه دا ده چې دزرګونو کورونو او ځوانانو په شته والي سره یو څو تنه مخرب عناصر د دوی دبچیانو دښوونځیو دسوځولو لپاره اقدام کوي کتابونه او دخدای تدریسي کتابونه سوځوي او څوك ورته څه ویلای نشي دا څه علت دی چې څه ورته نه وایي.

دا چې هغوی زموږ علما وژني زموږ ښوونځي سوځوي دحل دوه لارې موجودي دي یوه دا چې زموږ علما باید نور له چا څخه په ویره کې ژوند او په بې تفاوتي کې ژوند ونه کړي باید د اوس په څیر په پوره جرئت نورد هغوی دناروا اعمالو پر خلاف تبلیغات زیات کړي چې عوام پرې وپوهیږي او بله دا چې ټول ولس په ګډه دحکومت له ځواکونو سره په تفاهم دځانی دفاع ډلې چې په ځینو سیمو کې ورته ملیشه او اربکي وایي جوړې کړي چې په خوست او کنړ کې یې بیلګې لیدلای شو دځانی دفاع ډلې کولای شي چې دهغو ټولو مخربو عناصرو مخه ونیسي او په سیمو کې اوسیدونکي او مخرب عناصر هم دقانون پنجوته وسپاري.

ACKU

متصدی: نرگس

زن را، مادر را، ستایش کنیم!

دښځو دحقوقو په برخه کې غړند پرمختګ

دښځو دچارو وزارت هڅه کوی له پیړیو څخه د راپاتې شوی تاو تریخوالی اوناسم چال چلن په وړاندې مبارزه وکړي، خو زیاتره خلك چټکو پایلو ته سترګې په لاره دی.

څلور کاله دمخه دطالبانو درژیم له را نسکوریدو راهیسې دښځو په ژوند کې دپام وړ بدلونونه راغلی دی او اوس ښځې په پارلمان، نجونی په ښوونځیو او لوڅ مخونه په لارو کوڅو کې لیدل کیږي.

یو شمیر خلك لا اوس هم استدلال کوی، چې افغانی میرمنې لا اوس هم له ډیرو حقوقو څخه بی برخی دی.

دښځو دچارو سرپرستې وزیرې مسعوده جلال یو وخت وویل: ((په افغانستان کې یوه ټوکه ده چې وایی: ښځې هیڅکله نه زړیږي.)) لامل یې څه دی دښځو دعمر منځنی کچه ۴۴ کاله دنړی تر ټولو ټیټه کچه ده.

ښځې دنارینه وو په سلو کې د ۵۰ په پرتلې یوازې په سلو کې ۱۵ لوستی دی دشمیرنو له مخې هغه ښځې چې کار کوی دمیاشتې دخپلو نارینه سیالانو په پرتله په سلو کې ۵۰ معاش ترلاسه کی په سلو کې تر ۸۰ پورې ودونه دناوې له خوښې پرته ترسره کیږي او د افغانستان په ځینو سیمو کې په ماشوم باندې دمور مړینه له لیکل شوې کچې ډیره لوړه ده

زیاتره دا شرایط دښتپالو طالبانو له لنډ مهالې واکمنی څخه دمخه پیر ته رسیږي او زیاتره یې له پخوانیو دودونو او رواجونو سره تړاو لري چې په ټولنه کې ژورې ریښې لري.

له دې امله د ښځو د چارو وزارت دښځو دژوند دښه کولو لپاره اوږد مهاله پلانونه ترلاسه لاندې نیولی دی.

که چیرې په راتلونکو لسو کلونو کې دښځو دچارو وزارت پلانونه عملی شي نو تر پنځه کلنی کښته ټولنې نجونې به دناروغیو په وړاندې واکسین شي په سلو کې ۶۰ څخه تر ۷۰ پورې نجونې به ښوونځیو ته لاره ومومی. دمور ماشوم مړینه به په سلو کې ۱۵ ته راټیټه شي او دښځینه ښوونکو شمیر به په سلو کې پنځوس زیات شي.

دښځو دچارو وزارت دښځو لپاره یو ملی پلان ترلاس لاندې نیولی او دافغانستان له ملی ستراتیژی سره یې نښلولی دی.

دښځو دچارو سرپرستې وزیرې په ۲۰۰۱ کال کې دښځو دچارو رامنځته شوی وزارت دریمه ښځینه وزیره ده سیما ثمر ددې وزارت لومړنی وزیره وه له هغې وروسته حبیبه سرابی وزیره شوه چې وروسته بیا ولسمشر حامد کرزی د بامیانو دوالی په توګه مقرره کړه نوموړی (سرابی) لومړنی میرمن ده چې دوالی په څوکی ګومارل شوې ده.

مسعوده جلال چې اوس سرپرسته وزیره ده په ۲۰۰۴ کال کې د ولسمشر لپاره ټولټاکنو ته ولاړه او په شپږمه لیکه کې راغلې وه نوموړې د ۲۰۰۴ کال له دسمبر څخه را په دې خوا دو زارت څوکی پرمخ یووړ.

دافغانی ښځو دټولنې مشری، ثریا پرلیکا وویل: دښځو چارو وزارت یوازې یو سمبول دی د حکومت لپاره یوه لاره ده ترڅو نړیوالې ټولنې او افغانی میرمنو ته ووایی چې ښځې هغې ته ارزښت لري حکومت د نوموړی وزارت په هکله زیات جدی نه دی.

دښځو چارو دوزارت دتیر کال بودجه د حکوت دټولې ۶۳۲ میلیونه ډالرو لګښتې بودجې له شمیرې څخه دوه عشاریه څلور میلیونه ډالره لږه وه.

دموجود مالی بنسټ له مخې داسې نه ښکاري چې رفورم دې چټك کړای شي.

پرلیکا وایی دښځو چارو وزارت په تیروڅلورو کلونو کې ددې وړتیا نه لرله چې دښځو ستونزو ته ورسیدای شي دحکومت له ملاتړ پرته به ددې وړتیا ونه لري چې په راتلونکو ۴۰ کلونو کې کوم کار وکړی.

کارپوهان له ښځو سره دمرستې په هکله ددغه وزارت فعالیت بس او کافی نه بولي.

یو سیاسی څیړونکی بشیر بیژن وایی: ښځې تر ټولو بیوزلی دی هغوی دجګړې او ټولنیزو ستونزو له امله زیات تاوانونه زغملی دی دښځود چارو وزارت دخپل رامنځته کیدو راوروسته دښځو ستونزو دله منځه وړلو لپاره هیڅ کار نه دی کړی.

دښځو د چارو کار پوه دمیډیکا مونډیالی غیر حکومتی موسسې مشره، انجلیس مارتینیر آی ډبلیو پی آر ته وویل: چې هغه دښځو دچارو وزارت له فعالیتونو څخه خوښه ده.

هغې وویل: مور خپلې ټولې پروژې د ښځو چارو له وزارت سره په ګډه پلی کړی دی نوموړی وزارت له موږ سره په ټولو برخو کې ګډه مرسته کوي.

خو زیات شمیر عادی افغانی میرمنې وایی چې نوموړی وزارت دهغو دژوند په ښه کیدو کې ډیره مرسته کړی دی.

دکور یوې میرمنې ۴۶ کلنی انیس ګل، چې دکابل مرکزی برخی په یو بازار کې یې سابه پیرودل وویل: ما تر اوسه ددغه وزارت کوم اغیز نه دی لیدلی که هغه وی او یا نه وی ماته یې څه؟

دوزیرآباد دمنځنی ښوونځی ښوونکی څلور دیرش کلنه نجیبه یوه کونډه میرمن ده هغه وایی: کله ناکله په ورځو خپل ماشومان نه شم مړولای زه نه غواړم آن ګاونډیان مې په دې کار وپوهیږي ماته هغه وزارت څه شی راکړی دی؟ افغانی میرمنې زیاتې ستونزې لري باید وزارت هغه له منځه یوسي.

دتاجور سلطان دلیسې یوې ښوونکی ۳۶ کلنې فهیمې وویل: له نوموړی وزارت ستره بریا په تلویزیون د ځان ځرګندول دی هغې وویل: هغه په دې اند ده چې نوموړی وزارت ښځو ته دخپلو ستونزو په اړه دارزښت وړ یو څه کار کړی دی.

هغې وویل: نوموړی وزارت د ښځو لپاره یو خوندی ځای دی داسې یو ځای چې کولای شي هلته ستونزو دبیانولو لپاره لاړې شي.

داسې بریښی چې جلال له نیوکو څخه نه ډاریږي سره له دې هغه دخپل وزارت په وړاندې د ستونزو شتون منی او له هغې څخه د زیاتې هیلې لرلو په هکله خبر داری ورکوی.

هغه وایی که موږ دوضعې د ښه کولو لپاره په ګډه کاروکړو نو ښایی دوه درې لسیزو ته اړتیاوې که دا کار ونه کړو نو ښایی دوه درې پیړی وخت واخلی.

دښکلا توکي دګټې په ځای زیانونه رامنځته کوي

هغه میرمنی چی دتلویزیون دلیدلو له لاری ښکلا ته لیوالی کیږی، چی ځان سینګار کړی، ښایست او ښکلا یی په غم بدلیږی.

دیرش کلنه رقیه یوه غمجنه میرمن ده هغی خړرنګه جامی په تن اولوی سپین پوړنی یی په سردی. د سرپوښل د هغی دبدمرغی یو لامل دی دهغی دسرویښتان بیخی تللی دی.(ګنجی ده) دهغی سرپه زیږو ویښتانو پوښل شوی. هغه دکابل مرکزی روغتون ته دیو ډاکټر دلیدلو لپاره راغلی.

هغی ژړل او ویل یی: میاشت دمخه ما په نوی ښار کی په یو سینګار ځای کی ویښتان تونی کړل، په پیل کی هرڅه سم و، خو له لسو ورځو وروسته زما ویښتانو په تویدلو پیل وکړ کله چی به می ویښتان ږمنځول نو په زرګونه ویښتان به می وتل وروسته می پاتی ویښتان مات شول.

رقیی وویل: کله چی بیرته دویښتانو سینګار ځای ته لاړه او شکایت یی وکړ نو ورته وویل شول چی هغوی مواد له ځایی بازار څخه اخلی او دکیفیت کوم تضمین نه لری.

دطالبانو له رانسکوریدو او دځینو محدودیتونو له منځه وړلو وروسته افغانی میرمنی دوار او ګوښه والی له کونج څخه بهر راووتی. چی دښتپالو رژیم له خوا په هغوی لګول شوی و. اوس چی په سینما او تلویزیون باندی بندیزونه له منځه تللی دی هغوی له زیاتو خیالونو سره لیوی کوی او یو زیات شمیر خوبی هڅه کوی، دهندی فلمونو دلوبغاړو په څیر ځانونه سینګار کړی، چی اوس یی دخپلو خوبونو په کوټو کی دتلویزیون له لاری ننداره کوی.

افغانی بازارونه لاتر اوسه ددی لپاره چمتووالی نه لری چی دسینګار طلو کیفیت لرونکو توکو په اړه دهغوی غوښتنی پرځای کړی په حقیقت کی ښایی دزیاتو لوکسو مغازو دسینګار توکی کله ناکله زهرجن وی او دڅیری دبدلون یا ناروغیو لامل شي.

پنځه ویشت کلنه زیبا له کوم ډاکټر څخه دهغو توروټو په هکله ددرملنی مرسته وغواړی چی ښایسته له نیمایی زیات مخ یی ورته ډك دی هغی له سره ترپښو توری جامی اغوستی او سر او دمخ یوه برخه یی په تور دستمال پوښلی ده.

هغی وویل: دری میاشتی دمخه ما په بازار کی له یوی هټی څخه دسینګار توکی وپیرودل زما مخ ورسره حساسیت پیدا کړ خو له لږ وډیر یوساعت څخه وروسته رټی ورکی شوی ما بیا ووهل دا خل رټی ورکی نه شوی ددی کار دوه میاشتی وشوی زه ډیره خفه او تلولی یم.

دطب ماهرین وایی په کابل کی دسینګار توکی ښایی زاړه شوی وی، یا داسی توکی ولری چی دپوستکی او ویښتانو لپاره زیان ولری دروغتیا وزارت چی دسینګار د توکو دکره والی مسوولیت په غاړه لری ښکاری چی په خپله دنده کی پاتی راغلی دی.

محمد ګل کوهدامنی دمیوند دروغتون مشر او جلدی متخصص په دی اند دی چی دسینګار توکی ښایی پوستکی په ځانګړی توګه دمخ پوستکی ته زیات زیان ورسوی دسینګار توکی دپوستکی سوری (مسامات) بندوی چی دسروخالونو او رټو لامل کیږی.

بیلابیل کیمیاوی مرکبات دلمر په وړاندی دحساس دی او په بازار کی دسینګار دزړو او درغلو توکو شتون دا خطر نور هم پسی زیاتوی.

هغه وویل: دسینګار درغلو او زړو توکو له کارولو سره دپوستکی دزیانمن کیدلو پیښی دعادی توکو دکارونی پرتله لس هومره زیاتی شوی دی.

د ویښتانو رنګول او دویښتانو تونی کول یو ځانګړی ستونزه ده

هغه وایی: ما ته اوس په لسګونو هغه ناروغان راځی چی له ۲۴ تر ۲۸ ساعته دمخه یی ویښتان رنګ کړی وی. نوموړی زیاته کړه درنګ توکی دسر له لاری د وینی جریان ته ننوزی او کیدای شی دبدن په نورو برخو کی دپوستکی دزیانمن کیدو لامل شی په همدی توګه کیدای شی دسرطان دناروغی شونتیا هم زیاته کړی.

دکتور عبدالوکیل پروانی چې د ابن سینا په عاجل روغتون کی دپوستکی دناروغیو ماهر دی وایی : هیواد ته دسینګار دبی کیفیته اوله معیار څخه دټیټو توکو واردوونکی بی مسوولیته خلك دی نوموړی وویل: کیدای شی ځینی توکی زهرجن وی او دپوستکی دسختی ناروغی لامل شی. په همدی توګه داعصابو مرکزی سیستم دهاضمی سیستم او زړه هم اغیزمنوی.

پروانی زیاته کړه اوس د زیات شمیر ناروغانو پوستکی او ویښتان دسینګار دبی کیفیته توکو دکارونی له امله زیانمن شوی او خبری ورکړ چې باید ښځی له بازار څخه دسینګار پیرودل شوی توکی ونه کاروی نوموړی وړاندی ولاړ او ویی ویل: ښځی باید سینګار دتوکو ترکارونی دمخه یوه ډیره لږه اندازه دخپلو غوږونو ترشا یا په مټ باندی وازمایی.

د کابل دنوی ښار دفیشن په یو بازار کی یو هټیوال عبدالحکیم دا ومنله چی دسینګار دتوکو کیفیت ټیټ دی.

هغه وویل: حکومت له سوداګرو څخه محصول اخلی او هغوی پریږدی چی دکیفیت له ازمایلو پرته دا زاړ توکی هیواد ته راوړی.

دعبدالحکیم په خبره کی دسینګار داسی توکی وچی دجرمنی یا نورو هیوادونو نښی مارک پری لګیدلی وی. خو هغه وویل چی هغه په حقیقت کی له چین او پاکستان څخه په ارزانه بیه راوړل شوی دی.

هغه وویل: زه درغلو پوړو خو وپوله لرم چی سوداګرو راته راوړی دی او زه یی باید په خلکو وپلورم.

دیرش کلن ایوب دکابل دښار په مرکزی برخی کی دسینګار دتوکو یو سوداګر دی هغه په غوسی دا خبره وکړه چی ګوندی سوداګر دښه کیفیت ملونه راوری.

حال میتوانم به رویا های خود اعتماد کنم.
دریافت و ارسال پول در طی چند دقیقه محدود به سراسر دنیا. *
WESTERN UNION
انتقال پول
کابلبانک
KabulbanK

- ضرورت به حساب بانکی نبوده و دریافت کننده مکلف به پرداخت هیچ نوع فیس نمی باشد.
- شما میتوانید از ۱۹۵ کشور پول دریافت و یا به آن ارسال نمائید.
- این خدمات در بامیان، غزنی، حیرتان، هرات، اسلام قلعه، جلال آباد، شهر کابل، قندهار، خوست، کندز، مزارشریف و زرنج موجود است.

* تابع اوقات فعالیت نماینده گی های دریافت کننده میباشد.

۰۷۹۹۵۸ ۰۴۴۴ / ۰۷۰ ۲۹۹ ۲۴۱
۰۷۹۹۲۷ ۰ ۰۱۹ / ۰۷۰ ۲۷۰ ۰۱۹

امریکا سره د بندیانو په سر د سره صلیب لانجه

د سره صليب نړيواله كميټه وايي له دې امله خواشيني څرگندوي چې امريكا ورته په پټو زندانو كې د ترهگرۍ په شک د ساتل شويو وگړو د كتنې اجازه نده وركړې. د سره صليب مشر، جيكب كيلېنبرگر وويل دې ټكي ته له پام پرته چې د نيونې پلمه څومره قانوني ده، هيڅوک حق نلري چې د زندان ځايگی پټ كړي، يا د بندي له شتوالي انكار وكړي. دده څرگندونې په واشنگټن كې د بهرنيو چارو له وزيرې كاندوليزا رايس او د دفاع له وزير ډونالډ رمسفيلډ سره تر غونډې وروسته شوې دي. د سره صليب يوه وياند، بي بي سي ته وويل چې امريكا د نړيوال قانون له مخې مكلفيت لري چې د بنديانو لپاره يو روښانه حقوقي چوكاټ چمتو كړي. د بي بي سي د ډيپلماتيكو چارو خبريال جاناتن ماركس پدې هكله ديوې څېړنې په ترڅ كې وايي: دا د سره صليب د نړيوالي كمېټې آی سي آر سي د مشر له خوا نادوده مخامخ څرگندونې دي. جاكوب كېلنبرگر د متحده ايالتو د بهرنيو چارو له وزيرې كاندوليزا رايس، د دفاع له وزير دونالد رمسفېلد او نورو جگپوړو چارواكو سره له خپلو كلنيو خبرو وروسته غږېده. په ناڅرگندو ځايونو كې د پټو ساتل شويو بنديانو مسلې له دوو كالو راهيسته د سره صليب نړيوالي كمېټې ته اندېښنې وراچولي. مخكې له امريكاييانو سره په دې اړه خبرې شوي، خو څرگنده ده چې دومره گټه يې نه ده لرلې. ښايي له همدې امله سره صليب پرېكړه كړې وي چې خپل نهيلي په ډاگه كړي. سور صليب ټينگار نه كوي چې بنديان دې محاكمې ته وړاندې شي يا دې خوشې شي، بلكې وايي چې هغوی دې په داسې شرايطو كې وساتل شي چې د خوندي توب لپاره څه لارې چارې په پام كې نيول شوې وي، يعنې د يوه څرگند حقوقي نظام لاندې او په رسمي توقيفځايونو كې دې وساتل شي چې په منظمه توگه يې د حال پوښتنه وشي. د سره صليب نړيواله كمېټه وايي د نړيوال تړون له مخې متحده ايالتونه دنده لري چې له ټولو هغو بنديانو چې د يوې نړيوالي جگړې په ترڅ كې نيول كېږي سور صليب خبر كړي او پرېږدي چې ورسره وگوري. سور صليب وايي دايې دنده چې آن هغو بنديانو ته هم چې په كورنۍ شخړه كې په امنيتي دلايلو نيول شوي وي، خپل خدمات ور ورسوي. د متحده ايالتو د پټو زندانونو او له يوه نه بل ته يې د زندانيانو لېږدولو د پام وړ ناندرې رامنځته كړې. دا د كړكېچ يوازې يو اړخ دی چې د امريكا له خوا اعلان شوې د ترهگرۍ ضد جگړې رامنځته كړی. جدي امنيتي مسلې، يعنې د مرگ او ژوند خبرې، پكار دي له دوديزو آزاديو او د قانون سم بهيرته له لاسرسي سره وتلل شي.

سید طیب جواد: بی توجهی ...

او افزود درين اواخر جنگجويان طالب امكانات بيشتری را از كشور های همسايه بدست ميآورند واز جانب ديگر دولت افغانستان امكانات كافی برای انزوای طالبان را از جامعه جهانی بدست نياورده است.

د طالب جنگیالیو...

دغه درنده جگړه پرون د كندهار د پنجوايی ولسوالی د زنگ اباد سيمه كې د افغان دولتی پوليسو او طالب جنگياليو تر مينځ وشوه. داود زياته كړه دوه تنه طالب قوماندانان ملا ابراهيم او ملا شرف الدين پوليسو نيولی او د ملا باقی مرستيا ل عزيز اغاو حافظ حسن ټپيان شوي دي. له نيول شوو كسانو څخه اوس مهال تحقيقات روان دي. ده وويل د جگړې په ترڅ كې دپنجوايی د جنايی پېښو د مشر په گډون ۵ تنه پوليس مړه او ۸ تنه ټپيان شوي دي او په سيمه كې تصفيوی عمليات دوام لري. په دغه جگړه كې يوازی د پوليسو ځواكونو برخه اخيستې ده. طالبان وايی يوازې يو كس يې مړ شوی دی.

ملالي جویا: له ویرې...

جويا ددې لامل په ولسي جرگه كې تيره اونۍ له پخوانيو مجاهدينو سره چې دا يې جنگسالاران بولي، د يوه بل ځل لپاره په لفظي شخړه كې د كېنيوتو پايله بولي.

د شخړې لامل د دې هغه څرگندونې وې چې پكې يې د واک پر سر په كورنيو جگړو كې راښكيلې وسله والې ډلې مجاهدين نه، بلكه جنايت كاران او جنگسالاران وبلل.

ددې څرگندونو ځواب په هماغه ځای د اوبو په ډكو بوتلونو د هغې ويشتل او د سپكو سپورو اوريدل وو. خو د ولسي جرگې دغه ۲۷ كلنه وكيله خبره په همدغه ځای پای ته رسيدلې نه گڼي او وايي چې د خپل امنيت په تړاوو وروستی اندېښنې جدي بولي

په ننگرهار کې یو شمیر...

دغو راټولو شوو ميرمنو پر دولت هم دا نيوكه كوله چې دملالی جويا امنيت يې نه دی ساتلی. دوی په پای كی يو پريكړه ليك هم دملگرو ملتونو مرستندوی دفتر يوناما اونوروارونډو اداروته وسپاره.

دملالی جويا نوم چې په پارلمان كی دفراه دخلكو استازی توب كوی يو ځل بيا هغه مهال دخلكو خولی ته ولويده چې څو ورځی وړاندی يې په ولسي جرگه كی غوښتنه كړی وه چې دمجاهد او ټوپك سالار ترمنځ توپيروشی چې دولسی جرگی يو شمير استازو له سختو غبرگونونو سره مخامخ شوه.

څو ورځی دمخه په فراه ولايت كی هم يو شمير ميرمنو دملالی جويا په ملاتړ مظاهره كړی وه.

اراده
زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تیلفون موبایل : ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
ERADA Daily
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar Mobil Phone: 070222726
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد مسعود "ستانکزی"
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی
eradadaily@hotmail.com